## د ماضي يادونه
## د متحده ايالتونو او افغانستان د اړيکو ابتدايي کلونه

د اوسني افغانستان تاريخ په اتلسمه پېړۍ کښې د احمد شاه دراني د حکومت په اوږدو کښې د افغاني قبيلو د يووالي سره پيل شو. د پولو کشالې يوه داسې بڼه واخيسته چې په وروستي پېړۍ کښې د دوست محمد خان پر مشرۍ کښې اوسنۍ نقشې ته ورته افغانستان مينځ ته راغی. د ۱۹۱۹ز د اګست په مياشت کښې د راولپنډۍ تړون لاسليک کولو سره د امير امان الله خان په مشرۍ کښې د افغانستان اوسنی هېواد جوړ شو. په ۱۹۲۱ز کښې امير د خپل نوي هېواد د رسميت پيژندنې د را جلبولو لپاره د محمد ولي په مشرۍ کښې يو هيئت د لوېديزو هيوادونو په سفر ولېږو. کابل ته په راتګ استازی د ځان سره يو ليک راوړو چې هغې ډېر هيجان پيدا کړ: د متحده ايالتونو د ولسمشر وورن جي هارډينګ له خوا درناوی.

د هغه وخت د ډېرو امريکايانو پشان ولسمشر هارډينګ افغانستان د نړۍ په بل اړخ يو مرموزاو بهرنی وطن ګڼلو. د هارډينګ درناوي د دواړو هېوادونو د اوږدو او ګټورو اړيکو لپاره يو ابتدايي بڅرکی ورکړ. په دغو کښې د هغه برياليتوبونو نخښې وې چې ډېر ځله په تاريخ کښې هېرول کيږي. خو د هغه خلکو په يادونو کښې ښکاره پرتې وي چا چې ليدلي وي. د محمد ولي له تاريخي سفر څخه څه له پاسه نيمه پېړۍ وروستو، د متحده ايالتونو حکومت په افغانستان کښې د مرستې او پرمختيا په پروګرامونو باندی ۵۰۰ ميليونو زيات لګښت کړی دی. د۱۹۷۰ کال د لسيزی په شاوخوا کښې بې شمېره امريکايي ښوونکيو، انجنيرانو، ډاکټرانو، سفيرانو، او څېړونکيو د افغانستان په ناهمواره زمکه ګرځېدلي دي کوم چې د افغانستان د استوګنو سره سم اوسېدلي او کار يې ورسره کړی دی. په دغه کتونکيو باندې د هېواد بې سارې ښکلا او د دې د خلکو بې سارې مهربانۍ ډېر اغيز کړی دی. افغانان متحده ايالتونو ته د علمی زده کړو، روزنې، دندې، تجارت او رسمي ملاقاتونو لپاره تللي دي او د امريکايانو سره يې اړيکې غښتلې کړې دي. د دغه ونډو آخري هدف د افغان مسلکيانو او متخصصو کارګرانو يوه داسې ټولګې جوړول وو چې د هغوي هنرونه به د راتلونکي نسلونو لپاره ګټور وي.

د ولسمشر هارډينګ او افغاني هيئات ترمنځ ملاقات د ۱۹۲۱ز په جولای کښې بشپړشو. دا هيئات نيويارک ښار ته هغه مهال راورسېدو چې يو افغانۍ کډواله چې ځان يې فاطمه شهزادګې بلله، هم هلته وه. دواړه خواوو د ولسمشر سره د ليدو لېوالتيا ښکاره کړه په داسې حال کښې چې فاطمې ماو د هغې ډله د رسمي افغاني نمايندګانو د رارسېدو نه څو ورځې وړاندې په سپينه ماڼۍ کښې ملاقاتونه کول. ولسمشر هارډينګ ته وروستو احساس وشو چې د شهزادګۍ ملاقات د رسمي نه زيات د شخصي ابتکارونو پايله وه. امريکايي ډيپلومات کارنيليس فان ايچ اينګرټ په ۱۹۲۲ز کښې د کابل سفر وکړ او

د افغانستان په اړه یې یو مفصل راپور ولیکو. د ولي او اینګرټ سفرونه د ډیپلوماتیکو اړیکو د ټینګولو په لور مهم ګامونه وو خو د امریکایانو او افغانانو تر منځ له یو بل سره د تماس نیولو لومړي مثالونه نه وو. د ۱۸۲۸ز او ۱۸٤۱ز تر منځه د پینسیلوانیا یو ځوان چې جوزیا هارلان نومېده، په افغانستان کښې اوسېدو او د هغه قصه باید د روډیارډ کیپلینګ مشهوره قصه *هغه سړی چې پاچا به وي* هڅولي وي. سره له تاریخي سوانحو د کمښت، د دوهم لاس منابع څرګندوي چې په ډېر لږ شمېر کښې امریکایان د نونسمې پېړی په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کښې افغانستان ته تللي وو.

که څه هم د هارلان په څېر مشهور نه و، په پخوانیو وختو کښې په افغانستان کښې اوسېدونکي تر ټولو جالب امریکایانو کښې یو ای سي جیویټ و، چې په لومړیو کښې د جنرل الیکټرک کمپنی کښې انجینر و، او امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۱ز څخه تر ۱۹۱۹ز پورې په کار ګمارلی و. کابل سره نژدې په جبل سراج کښې د هېواد وړومبی د برېښنا تولیدولو کارخاني په جوړولو کښې د جیویټ بریالیتوب د تخنیکي مهارت او خېرخواهی یو قوي مثال و. هغه یو داسې مثبت اغیز پرېښودو چې جین فان کوور، د نیویارک اوسېدونکي چې په ۱۹۲۳ز کښې کابل ته تللي وه، هلته د خپلې تجربې په اړه داسې لیکلي دي: "سره له دې چې... د دې هېواد د ژبې په اړه زما د پوهې د کمښت، ما ژوند په اسانه تېر کړ او دا ویی (لفظ) مې بیاموند چې 'امریکایي' – د ټولو زړونو کلي ده." د جیویټ کار، د ولسمشر هارډینګ د خط سره، هم د افغانستان او امریکا د تجارت چارو ته دروازه خلاصه کړه چې په هغې کښې په ۱۹۲۲ز کښې یو (فانډرلیپ سینډیکیټ) دی. د دغې لسیزې پای ته د آسیا رسالې دوه امریکایي لیکوالو د ګرد هېواد سفر وکړ او د دې وطن او د دې د خلکو په اړه یې خپل نظر ورکړ. وار په وار، امریکایانو د افغانستان په باب زده کړې پیل کړې.

د ۱۹۳۰ز لسیزې په اوږدو کښې د امریکا له خوا د سفر کوونکیو شمېره زیاته شوه. په دغو کښې سېلانیان، سوداګر، لیکوالان، او څېړونکي شامل وو. په ۱۹۳۳ز کښې ډګروال ثیوډور رووزویلټ (کشر)، د هغه وخت نوی ټاکل شوي ولسمشر فرانکلین ډي رووز ویلټ د تره زوی، او د هغه میرمن په کابل کښې اوسېدل. د دوي په ډېر درناوي هرکلی وشو او وهڅول شو چې لــد اینده همکارۍ لپاره د پاچا نادر شاه له خوښی سره ستون شیږ بې شکه، د ای سي جیویټ د دوامداره مسلسل شهرت د امریکایي انجینرانو په افغانستان کښېد کار کولو لپاره د افغانستان حکومت له غوښتنی سره مرسته وکړه چې په هغوی کی چې د ۱۹۳۰ز لسیزې په منځ کښې په دغه انجینرانو کښې ریکس ویوین او ارنیسټ فوکس شامل وو. دا تصادفي نه وه چې دې دورې د امریکا جوړ کړي کیټرپیلر تراکتورونو واردات ولیدل. افغان مشرانو هم د انګلیسي ژبې د زده کړې لپاره د امریکایي ښوونکیو د میشت کولو ارزښت احساس درلودو، چې پکښې داسې ښوونکي هم شامل وو چې په پلازمینه او نورو

ځایونو کښې ډېر مشهور شول، لکه جي. فیلیکس هاولینډ او ویلبر وي هارلان – دا وروستنی د جوزیا هارلان لیرې خپلوان و.

د ۱۹۳۲ز په شاوخوا کښې د افغاني ځوانانو یوې ډلې د امریکا په مشهورو پوهنتونو کښې زده کړې پیل کړې وې. دغه محصلین او وروسته نور، هېواد ته راستانه شول او ډاکټران، انجینران، ښوونکي، سفیران او صدراعظمان شول. په ۱۹۳٤ز کښې د ولسمشر رووزویلټ له خوا د محمد ظاهر شاه په تخت کیناستل په رسمي توګه منلو او په راتلونکی کال کی د یو ناستوګن امریکایي استازي (د یو رسمي استازي مخکښ) د ټاکلو نه وروستو، افغانانو په خپل ټولنیز او اقتصادي پرمختیا کښې د امریکا د ګډون لپاره موقعي ولیدې. په ۱۹۳٦ز کښې دواړو هېوادونو (د دوستی، ډیپلوماسۍ او قونصلګرۍ نمایندګي) لپاره یو موقتي تړون لاسلیک کړ. که څه هم لوی مالي بحران په کابل کښې د امریکایي هیئت پاته کیدل وځنډول، متحده ایالتونو او افغانستان د ارتباې لپاره منځنی طریقي بیاموندې. د امریکا د ډیپلوماتیک پستی پرانیستنه په ۱۹٤۲ز کښې بشپړ شوه کله چې مختار استازي، کارنیلیس فان ایچ اینګرټ، پلازمیني ته د خپل وړومبي راتګ نه شل کاله وروستو، خپل اعتبارلیکونه ظاهر شاه پاچا ته وړاندې کړل. اینګرټ د افغانستان ټول عمري دوست او ملاتړ و او په خپلو هلوځلو کښې د ده مرسته د متحده ایالتونو نورو استازو، لکه چارلز ډبلیو ثییر، او نظامي اتاشي مېجر ګورډن ایندرز، وکړه.

ثییر وروستو خپل یاددابښتونه خپاره کړل او د افغانستان په اړه لیکلي برخې د دوستانه تعاون دوره په ګوته کوله. هغه یادوي چې څنګه د هغه ګران بلژیکی سپی (میجیټ) وټاکلی شو چې د پاچا د ارزښتناک الماني سپی سره نسل تولید کړي. او زیږېدلي پنځه کوکریان یې په شاهي کورنی کښې د ډالی په ډول ووېشل. ثییر د عقاب لوبوني لرغونی هنر د درباري عقاب پوه، عبدالله، څخه زده کړ، همدغه مهال استازي اینګرټ او مېجر اینډرز د جګړې له وختو جوړ د ډاج کشف موټر ظاهر شاه پاچا لپاره ترلاسه کړو. په ۱۹٤۳ز کښې ولسمشر روزویلټ د متحده ایالتونو لپاره د افغانستان لومړی استازی، عبدالحسین عزیز ته هرکلی وویلو، کوم چې بیا واشنګټن ډي سي ته تلل راتلل پیل کړل. دغه شان د متحده ایالتونو او افغانستان د اړیکو یوه طلایي دوره پیل شوې وه.

د ۱۹٤۸ز شاوخوا کښې امریکایان د راپورونو له مخې پر افغانستان کښې تر ټولو ستره لوېدیزه خارجی ټولنه وه. د دې تر ټولو غټ لامل په ۱۹٤٦ز کښې د ماریسن – نډسن، یو تعمیراتي شرکت چې د صنعت د پرمختیا او د هېواد په سویل لوېدیزه څلورمه برخه کښې یو غښتلی زراعتي مرکز جوړولو د یوې سترې پروژې عملي کولو مسوولیت ورته ورکړل شوی و، بوختېدل وو چې وروستو ورته د هلمند ناوې اداره چې وروسته ورته د (HVA) نوم ورکړل شو. HVA د خپل ډول تر ټولو زیاته لېواله هڅه وه. د دې هدف دا و چې د هلمند ناوې ته کافي ذرخېزه زمکه او بریښنا چې د

افغانستان زیاتېدونکیو نفوسو سره د غټو بندونو د جوړولو لا لاری مرسته وکړی چې د کرهنې، د برېښنا تولیدولو کارخانو او په سلهاو میله د اوبه خور د ویالو لپاره اوبه فراهم کړي. HVA په پای کښې د زراعت د پرمختیا، روغتیا او تعلیمي زېربناو جوړولو، د زمکو بیا د کروندې وړ ګرځولو او ودې، او د یو اداری مرکز (د لښکرګاه نمونه یي ښار) جوړولو په لوري لاړل. د افغانستان او ماریسن – نډسن ترمنځهٔ د تړاو ابتدايي مرحلو د ګډې ماجراجویۍ لپاره دروازه پرانیسته چې پکښې په ۱۹۵۰ز او ۱۹۶۰ز لسیزو کښې د امریکا او افغانستان دولتونه بوخت وول.

په ۱۹۴۹ز کښې متحده ایالتونو د هلمند په ناوې کښې د ودانۍ د کار لپاره یوه قرضه منظوره کړه او په څو کلونو کښې دننه د تعاون نړیوالي اداري (ICA) په افغانستان کښې خپل و. دې د افغانانو سره اوږه په اوږه کار کاوه او په ۱۹۵۰ز لسیزې په اوږدو کښې یی د یولړی د یادونی وړ پروژو نه نظارت وکړ او په ۱۹۶۱ کی د متحده ایالتونو د نړیوالي پراختیا اداره (USAID) برخه وګرځیده. دا راز منصوبو د افغانستان دولت د هغه پخواني ارمان سره مطابقت درلود چې غوښتل یې چې ملي زېربنا ښه کړي او دا باوري کړي چې امید بخښونکي افغانان ځوانان د خپل ولس لپاره د فعالیتونو بشپړولو روزنه ولري. په امریکا کښې د دغه پروګرامونو علمي فارغان او هغه وګړي چې د ICA او د دې سره تړل شویو سازمانونو د انتظام لاندې په افغانستان کښې دهغو ابتکارونو سره تلی، وزارتونو ته داخل شول، خپلو هېوادوالو ته یې ښوونه وکړه، او د خپل مهارت ساحو کښې یې د مشرۍ رول خپل کړ. امریکایانو د خپل افغان هم رتبه خلکو څخه هم زده کړې وکړې او د دواړو هېوادونو ګډونوالو د ګډو هدفونو په ترلاسه کولو باندی کښې ویاړ کاوه.

د همکارۍ د پروګرامونو په مثالونو کښې د کولمبیا پوهنتون د ښوونکو پوهنځی، د وایومینګ پوهنتون او نورو په مرسته تعلیمي پرمختیا او تبادلې شاملې دي. سربېره پر دې، د کابل پوهنتون لپاره یوه نوې وداني جوړه کړل شوه او د امریکا د نظامي انجینرانو ډلې د اوږدې فاصلې لویې لارې بشپړي کړې. د اریانا افغان هوايي شرکت او پان امریکا نړیوال هوايي شرکت ترمنځه همکارۍ په پایله کښې افغان پیلوټانو او د الوتکې کارکوونکو ته روزنه ورکړل شوه. د قندهار نړیوال هوايي ډګر هم یو ګډ اقدام و. د سولې عسکر امریکایي رضاکاران د پوهنې، روغتیا او اداري څانګو کښې کار کولو لپاره واستول. دوي په وزارتونو کښې دندې ترسره کړې. په کلیواله پراختیا کښې یې برخه واخیسته او د افغانانو سره یې نژدې دوستۍ جوړې کړې. ایشیافاونډیشن په ډېرو ساحو کښې مرسته وکړه، په داسی حال کی چې CARE او نور شخصی اداری-هم فعالی.

د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ لسیزو په پای کی د افغانستان وزیرانو د متحده ایالتونو او د امریکا د چارواکو د افغانستان سفرونه د دواړه هېوادونو تر منځهٔ اړیکې قوي کړې. په دغه سفرونو کښې ځلانده

دا دي: د پاچا ظاهر شاه تره، شاه محمود، په واشنګټن ډي سي کښې د ولسمشر ټرومن سره ليدو لپاره سفر، او د ولسمشر د مرستيال، ريچرډ نيکسن، په ۱۹۵۳ز کښې په کابل کښې لنډمهاله قيام. برسېره پر دې، صدراعظم محمد داود په ۱۹۵۸ز کښې امريکا ته لاړ او هلته يې د متحده ايالتونو کانګرس ته وينا وکړه، او د ټول هېواد د سفر پيل کولو نه مخکې د ولسمشر ډوايټ ډي ايزن هاور سره ليدنه. دغه تماسونه په ۱۹۵۹ز کښې د ولسمشر ايزن هاور کابل ته تاريخي راتګ سره اوج ته ورسېدل. په زرهاو افغانان د سړک په دواړه څنډو د (آيک) ليدو لپاره په ليکه ولاړ وو او د پاچا او ملکې لپاره زمينه مساعده شوه چې امريکا ته لاړ شي او د خلکو سره ويني.

د جان ايف کينډي سپيني ماڼۍ ته د پاچا ظاهرشاه او ملکه حميرا سفر د ۱۹۶۳ز د سپتمبر په مياشت کښې ترسره شو. شاهي سفر ډېر بريالی و، او په دولس ورځو کښې يې لسو ښارو ته سفر وکړ. پاچا په نيويارک ښار او واشنګټن ډي سي کښې په پرېټ کښې سپور و، په سان فرانسيسکو او ډيزني لينډ کښې درنه ميلمستيا ورته ورکړل شو او په کيپ کناورل کښې يې د امريکا د فضايي پروګرام په اړه زده کړې وکړې. هغه د وايومينګ پوهنتون (کوم سره چې د افغان دولت د اوږدې مودې زراعتي پروګرام روان و) له خوا د دوکتورا افتخاري سند هم ترلاسه کړ. کابل ته ستنېدو نه څو اوونۍ وروستو پاچا او ملکه ډېر خپه شول چې د کينډي د وژنې خپرونه يې واورېدل او د هغه غم زپلې کونډې ته يې د خواخوږۍ مراتب ولېږل. که څه هم له بده مرغه د ظاهر شاه او ولسمشر ترمنځه دوستي لنډمهاله وه خو د افغانستان او متحده ايالتونو ترمنځه د ښه نيت به په ډېرو لارو کی يی دوام.

په ۱۹۵۰ز او ۱۹۶۰ز لسيزو کښې د متحده ايالتونو او افغانستان تر ټولو زياتو اړيکو پر مهال د متحده ايالتونو په مالي مرسته جوړ شوي بې شمېره کلتوري پروګرامونو د دواړه هېوادونو پر هنرمندانو، منتظيمينو او نندارچيانو باندې مثبت اغيز پرېښود. موسيقارانو (لکه ګولډن ګيټ کوارټيټ او پيانو غږوونکي، اين سکاين، د جاز موسيقۍ افسانوي ماهرانو، ډيو بروبک او ډيوک ايلينګټن، او د نڅا ډلې چې پکښې جوفري بيلې شامل و) کانسرټونه او نوري ننداري ترسره کړې. په اروپا کی د متحده ايالتونو د هوايي ځواکونوډلۍ [بانډ] د محلي هنرمندانو او د موسيقۍ ماهرانو سره ګډه زمينه بيامونده کله چې هغو د ۱۹۶۸ز د جشن په مېله (هغه لمانځنه چې د افغانستان د آزادۍ يادولو لپاره هر کال د اګست په مياشت کښې کيږي) کښې خپلې د موسيقۍ الې وغږولې. د ۱۹۴۰ز په شاوخوا کښې امريکايي فلمونه په منظم ډول په افغانستان کښې ښودل کېدل او نورې لوېديزو رسنيو هم تعقيبول. په کابل کښې د متحده ايالتونو د معلوماتي مرکز (USIS) کتابتون او فرهنګي مرکز د امريکايانو او افغانانو لپاره يو مهم ځای و چې سره ويني او يو بل ښه و پيژنی. دې مرکز فلمونه ښودل، د تياتر اجرايي او هنري ښودنې يې بشپړولې او د انګليسي ژبې درسونه يې وړاندې کول د کومو مامورين چې هغه افغانان وو

چې د کولمبیا پوهنتون د ښوونکو د پوهنځی څخه یې روزنه ترلاسه کړې وه. دې مرکز امریکاییانو ته منابع وړاندې کولې چې د خپل نوي کور د کلتور او میراث په اړه نور څه زده کړي.

دا د لویو ساینسي پلټنو دوره هم وه. په تېره بیا د امریکایي لرغون پوهانو او تاریخ پوهانو لپاره چې د دې ملت شتمنه او ځلانده ماضي سره علاقه لرله، هغه ملت چې د منځني آسیا، سویلي آسیا او منځني ختیز په څلور لارې واقع دی. په ۱۹۲۲ز کښې د لیکوال لاول ټامس لومړي سفرونه او په ۱۹۳۷ز کښې د ټاونشیډ جانسن پلټنه د افغانستان په فرهنګي میراث باندې مهم بریدونه وو. خو په ۱۹٤۹ز کښې د هاورډ څخه فارغ شوي والټر فیرسیویس او لیویس ډوپري په ګډه لاړښوونه رښتینی امریکایي تحقیق پیل شو. ډوپري د خپلې ښځې نینسي هیچ ډوپري سره له کلنو راهیسي کار کولو او د افغانانو لپاره یو مشهور څېړونکی او فعاله غړی جوړ شو. د پینسلوانیا موزیم پوهنتون په ۱۹۵۳ز کښې په افغانستان کښې وروستو تر هغې کیندنې پیل کړې چې د موزیم رییس فرولیک رینې د دې لرغوني هېواد ښکلاوې مستقیما ولیدې. ساینسي هلې ځلې د ۱۹۷۰ز په ټوله لسیزه کښې ادامه درلوده. ځینې د یادونې وړ برخه اخیستونکي هغه امریکایان وو چا چې د افغان څېړونکیو سره له نژدې کار وکړو چې د کابل په موزیم کښې د ملي خزانو په اړه څېړنې وکړي او مقالی خپرې کړي.

شاید د دغه طلایي دورې تر ټولو مهم فرهنګي پېښه د ۱۹۵٦ز په جشن مېله کښې منځ ته راغله. متحده ایالتونو هغه وخت په نورو ځایو کښې د ملي نندارتونونو جوړېدل پیل کولونه نهه میاشتې وروستو دې مېلې ته د ننوتلو پرېکړه وکړه او په ډېره بیړه یې د یوی ودانۍ جوړولو ته اړتیا ولرله. د امریکا د معلوماتو اداری (USIA) ابتکاري انجینر، آر بکمنسټر فولر ته توجه وګرځوله او هغه د ۱۰۰ میتره قطر لرونکې د مساحت ګومبتې لپاره اجزا مطرح او چمتو کړل کوم چې په بیړه کابل ته په الوتکه کښې یوړل شول. بشپړ شوی نندارتون، په افغانستان کښې د امریکا وړومبی، کوم چې د هیجان لامل وګرځېدو، د خپل صیقلي ایندوي بنې له کبله او له دې کبله چې ددې په درولو باندې د افغان کارګرانو یو ډلې دوه ورځې ولګېدې. امریکا په ورستنیو جشن مېلو کښې هم ګډون کاوه خو نورو نندارتونو د ۱۹۵٦ز حېرانوونکي (بکي) ګومبتې سره سیالي ونه کړی شوه.

د ۱۹٦۰ز لسیزې ورستۍ او د ۱۹۷۰ز لسیزې وړومبۍ برخه د افغانستان په اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا کښې یوه بې سارې دوره وه، چې ترټولو غټ لامل یې د متحده ایالتونو او افغانستان د روزنې پروګرامونو او زېربنا جوړولو د کلونو شراکت و. برسېره پر روانو هلو ځلو، د افغان د کورنی کډې د-لارښوونې ټولنه جوړه شوه چې په کلیوالو سیمو کښې د ناروغپالو او قابلو یوه ډله وروزي او د افغانانو ښځو او ماشومانو روغتیا ښه کړي. د امریکا د نړیوالي پراختیا سازمان (USAID) او د افغانستان د پوهنی وزارت په مالي مرسته جوړه شوې د تعلیمي نصاب او نصابي کتابونو پروژې د

کولمبیا پوهنتون د معلمانو د پوهنځۍ په سره په ګډه یو ابتکاري پروګرام پیل کړ چې په دري او پښتو ژبو کښې د ابتدایي ښوونځی کتابونو لیکلو کښې د افغانانو مرسته وکړي. د ملي پرمختګ او روزنې پروژې د افغان حکومت چارواکیو ته د انتظامي هنرونو او قانوني امورو مشورې ورکړې. په کابل او واشنګټن ډي سي کښې لوړ پوړي حکومتي نمایندګانو ترمنځه د مخامخ کیدو له لارې ګډې هلې ځلې تقویه شوی. په دغه کښې شامل وو: په ۱۹۶۷ز کښې په سپینه ماڼی کښې د صدراعظم محمد هاشم مېوندوال د ولسمشر لینډن بي جانسن سره لیدنه، په ۱۹۶۹ز کښې د خارجه سیکتر ویلیم راجرز د کابل سفر، او په ۱۹۷۰ز کښې کابل ته د مرستیال ولسمشر سپایرو ایګنیو سفر.

په ۱۹۷۳ز کښې د محمد داود د حکومتراتلو سره  متحده ایالتونه د هېواد د ښېګړې لپاره د افغانانو سره په ګډه کار کولو ته متعهد وو. امریکا د USAID په مالي مرسته کېدونکي پروګرامونو کښې په میلیونو ډالره پانګه واچوله. د مثال په توګه، د افغنستان لپاره د امریکا د کلیوالی کارونه او اوبه ایستلو پروژې، او د HVA (چې اوس د هلمند ارغنداب ناوې اداره HAVA بلل کېدله، مرستې ته یې ادامه ورکړه. تعلیمي فعالیتونه، لکه د فل برایټ پروګرام، په مستقیمه توګه امریکایان او افغانان په ګډه  مثبت ډول ځای کول. خارجه سیکتر هینري کسینجر په دې دوره کښې دوه ځله، په ۱۹۷٤ز او ۱۹۷٦ز کښې، کابل ته سفر وکړ او خاص استازي، محمد نعیم په ۱۹۷٦ز کښې د متحده ایالتونو د دوه سوه کلنۍ لمانځنې پر مهال په سپینه ماڼی کښې د ولسمشر جیرالډ آر فورډ سره ولیدل.

نن، د  ICA د فعالیتونه پیل کولو نه شاوخوا شپېته کاله وروستو او د ای سي جیویټ کابل ته د راتګ نه یوه پېړۍ وروستو، یوازې هغه ځانګړی پروژې نه دی چې یادول کېږی بلکه د هغه افغانانو یادونه کوم چې په متحده ایالتونو کښې د زده کړو لپاره میشت وو، او د هغو ـامریکایانو یادداښتونه کومو چې په افغانستان کښې د مسلکیانو او رضاکارو په حېث کار کړی دی. د دواړه هېوادونو د سفر کوونکیو په ژوند کښې دا راز بنستي تجربې او د متحده ایالتونو او افغانستان ترمنځه جوړې شوې اړیکې باید هېرې نه کړل شي.

ډاکټر فریډرک ټي هیبرټ
ډاکټر کرټیس این سینډبرګ
ډاکټر کریسټوفر پي ثارټن